# دنوامبر دمیاشتی پینځه ویشتمه (۲۵مه ) نیټه د ښځو پر وړاندي د تاوتریخوالي نړیواله ورځ !

د عزیزاحمد خوارمل لیکنه:

داچي دنوامبر دمیاشتی پینځه ویشتمه (۲۵مه )نیټه د ښځو په وړاندي د تاوتریخوالي د نړیوالي ورځي سره برابراویوشان دی ،او دا ورځ په ټوله نړۍ کي ، د ښځو په ملاتړد یوشمیر د دفاع کمیټی ،دښځو دحقونوڅخه یوشمیر وګړنی نړیوال سازمانونه ، حکومتونه ،دولتونه او دنورو نړیوالو ارګانونواو ځانګو د خوا په دی مناسبت دغه ورځ نمانځل کیږی ترڅو دښځو په وړاندی دتاوتریخوالی دغه غیرانسانی اوغیراسلامی ،ظالمانه کړنی وغندل سي اودانا رواکړنی دی دمنځه ولاړسي ، اوهمدارنګه دغه نړیوایل اداراي او موسسات د خپل هاند اوموخی له مخې په دی تلاښ اوزیار دی چي دښځو په وړاندی کوم هغه بد چارچلنداو نا روا اعمال چي ددوی په وړاندی ترسره کیږی دغه سپیڅلی اومعصوم انسانان ددی وحیشانه کړنوڅخه وژغوره وي اورا خلاص کړی او ددی کړنو دترسره کولوڅخه ددوي په وړاندی مخنیوی وکړی . که دبشری ټولني و جوړښت اوډول ته پاملرنه وسي ،نو په ټول وګړنی (بشری ) ټولنه کي دایوه څرګنده ، ښکاره اوبربنډه خبره ده چي ښځې د ټولني نیمي (نیمایی ) برخه دنارینوپه وړاندی جوړه وي اوپه ټولنه کي دنارینو سره دبرابراویوشان حقونودرلودونکی پیژندل سویدي ،د همدی کبله ښځې په ټولنه کي ډېرارزښتمن رول او نقش لري اودنارینوترڅنګ په ډېرزړه ورتوب اوښځینه واک سره کولای سي چي خپلې دغې انسانی او وګړنی رول هم په ښه اوسمه توګه سره په ټولنه کي ولوبوی اوپلی یې کړی ، که ښځې د یوې لوری څخه د نړی پوهان،عالمان او قهرمانان په غېږ کي لویوي نود بلې لوری څخه دټولنې په ټولنیزو چاروکي ستری دندی اوفعاله ونډي هم لري اوښځه د ټولني د یومهم او فعال غړي په توګه په سیاسي ،اقتصادی ،ټولنیز اونوروچاروکي په خپلې برخی اخیستنی سره ستر وظایف او چاری ترسره کوي او په ښــه توګه سره کولای سي چي په دغو ستروچارو او فعالیتونو کي په فعاله توګه سره برخه واخلي .

زموږ د جګړه ځپلی ګران هیواد ګرانۍ اواغلی ښځې زموږ دکلتوری اوفرهنګی ښېسیزو اصولو او اسلامی مقدساتو سره سم په یو منظم ،ډسپلین اود اخلاقو په چوکاټ کي د ټولنې په پرمخ بیولو کي ستر رول یې لوبولای دي اوکولای سی چي وی لوبه وي ،نود همدي فکتورونواو اصولو په نظـــر کي نیولو سره ، په پرمخ تللي ټولنواو هیوادونو کي وښځوته په ډېر درننښت سره کتل کیږی او وښځو

ته دلمړيتوب مقام اوځای ورکوی . ددغوپرمخ تللی ټولنو اوهیوادونووګړی په دې پوره باور لري چې بیله دښځود ونډې اخستلو او ګډون کولوڅخه پرته ټولنه هیڅکله خپل د پرمختګ اودپراختیا پړاو ته نه سي رسیدلی ،رښتیا خبره خو دا ده چې زموږپه ټولنه اوهیوادکې وښځوته هیڅکله هم پاملرنه ندی ترسره سوی چې له دی کبله زموږپه ټولنه کې ډول ،ډول ستونزی دهمدی نه پاملرنی نه رامنځته سویدی .

په پرمخ تللی ټولنواوهیوادونو کې دهمدی بنسټیز مثبت فکتور پربنسټ د ښځو ونډې اخیستنی ته تل په درنښت او دقدر په ستر ګه کتل کیږي دا چې ښځه د ژوند په ډګر کې د یو مهم قشر په تو ګه پیژندل سوې ده نو د ټولنې وګړی هم دد ې ټکي په پام کې لرلو سره په پر مخ تللي ټولنواو هیوادونو کې وښځو ته یې د لمړیتوب مقام اوحیثیت ور بخښلی دی او ددی ټولنی نارینه انسانان په دې سره ښه پوه دي چې ښځه هم مور ده ، هم خورده ، هم دکور څراغ او روښانی ده ، همدارنګه ښځه د ژوند سمبالوونکې، د کورني ژوند د انتظام ،تعادل او د کور د اقتصاد په جوړولو کې یوډېرمهم رول لوبولاې سي ښځه د ماشوم د لمړنۍ ښوونکې او لارښود په توګه هم پیژندل سوېده .کوم وخت چې په ټولنه کې دښو ونۍ او روزنۍ کچه لوړه سي، اوښځۍ په ټولنه کې دنارینو ترڅنګ خپلی دندی ترسره کړای سي نو هر څوک به په دی باوری وي چې ښځۍ هم دنارینوپه شان دژوندانه په ټولو برخو کې کولای سي په مثبته توګه برخه واخلی اومهم کارونه ترسره کړی . خو متاسفانه زموږ په وروسته پاته جګړی ځپلی هیواداو ټولنه کې د ښوونۍ او روزنۍ د کچۍ د ټیټوالي د امله ښځه ته د ټولنې د یو فعال غړي په توګه نه کتل کیږي حتی یو شمیر خلک خو ښځه ته په خپل کورکې دا اجازه نه ور کوي چې خبرې وکړي خوپه دې لانه پوهیږي چې نارینه د ښځو په نه موجودیت کې نیمګړي دي دا په ښکاره اوبربنده توګه روښانه اومعلومداره خبره اویوستر واقعیت دی چې زموږ دګران هیواد درنۍ اواغلۍ ښځۍ د بهرنیو ښځو څخه هیڅ لږ والی اوټیټوالی نه لري . بنسیزه اومهمه مسله یوازی زموږ دټولنی وروسته پاته والی او بیسوادی یو لوی پرابلم اوستر عامل دی چې زموږ دهیواد دولتی واکدارانو اوچارواکی څرنګه چې اړین دی ودی ستری ستونزی ته خپل پام یې نه دی وراړه ولي ،چې دهمدی کبله دښځو په وړاندی زموږ په ټولنه کې دتاوتریخوالی اصلی اواساسی عامل او موضوع هم ددغو مسایلو څخه را ولاړیږی اودغه تاوتریخوالی دهیواد دبیوزلو اوتر ظلم ،رنځ اوترستم لاندی ښځوپه وړاندی ورځ تر ورځه زیاتوالی مومی ،په دی هکله په ډېر درنښت سره ،دافغانستان داسلامی دولت اودحکومت دمحترمو چارواکوڅخه هیله منديوچې لطفآ دی داساسی قانون دموادوپه رڼا کې دوکړو دمدنی دندو اومسوولیتونو په دی ارزښتمنه برخه کې دافغانستان دوګړنی ( بشری ) حقونود خپلواک کمیسیون د مسوولینو سره یوځای خپله ټینګه پاملرنه دی په دی برخه کې رامنځته کړی او دافغان دښځو په وړاندی دتاوتریخوالی ،تیری ،ظلمونواونوروغیرانسانی اعمالودمخنیوی دپاره اودښځو د پرمختګ دپاره ګټورګامونه اوچت کړی تر څو زموږ درنۍ اواغلۍ ښځۍ وکولای سی چې په نړیواله کچه دخپلو پوهی ،زده کړی او

علمی شخصیتونو په ښودلو سره د ښوونې او روزنې وجګو اولوړو پړاونوته ځانونه ورسوي او د نړۍ د ښځوسره په سالمو سیالیوکښې زموږ دافغانی ټولنی د اصولو اوکلتوری مناسباتو په رڼا کې د اوسنی شرایطو د دود اودستور اولړلیدونو سره سم په کښې کې برخه واخلی .

زه ددی پورتنیو ثوکرښولیکوونکی دښځو په وړاندی د تاوتریخوالي کړنی په ټینګه سره رده وم اوداکړنی یوغیرانسانی اوشوم عمل بولم ،او یوازی دا نه چې تقبیح کوم بلکی دهغه په وړاندی په کلکه سره مبارزه هم کوم ،او د ښځوپه وړاندی دتاوتریخوالی د نړیوالې ورځې په ویاړ دخپلو ټولوافغانو میندواوخویندو څخه چې د هیواد د ننه دي یا دهیواده څخه بهر دي په ډېردرنښت سره هیله کوم چې ددی نړیوالی ورځې په مناسبت دی یوموټی سي او دتاوتریخوالی پرضد اودهغوکسانودکړنوپرخلاف اودیوشمیرهغو ظالمانو دظالمانه ،غیر انسانی اوغیر اسلامی کړنوپه وړاندی دی خپل دریځ دی په یو ږغ سره اعلان کړې او دمبارزی ډګر ته دی راګډې سي راودی وځې ،په پای کې یو ځل بیا دخپل جګړې ځپلی ګران هیواد ودرنې او اغلې میندواو وخویندو ته د لا بریالیتوبونو ،روغتیا ،جوړتیا سوله ایز ژونداودتاوتریخوالی اوظلمونوڅخه د دوي دخلاصیدو هیله کوم . /

په درنښت